
فرهاد ویاړ


۳۰ اگست ۲۰۱۹

## ملګری توخي، د ستمځپلو انسانانو ربښتینی ملګری



**تا د آزادۍ په پار د بندیانو د خپګان کلیمې بیان کړی**
**د هغو ستمځپلو کلیمې دې بیان کړی**
**چې په راتلونکي باورمن دي**
**په هغه راتلونکي چې هلته واک یوازې له ولسونو سره وي**
**تا د هغو کسانو هیلو ته ځواک او زړورتیا وروبخښله**
**چې د ځواکمنو تر موزو لاندې ژوند کوي**
**تا د شتمن اقلیت په وړاندې**
**یوازې او یوازې د خپلې کرکې آواز اوچت کړ.**

دا د هغې ترانې یوه کوچنۍ برخه ده چې میکائیل ویه د چه ګوارا په یاد ویله ده. دا ترانه د ټولو هغو مبارزو انسانانو ژوند انځوروي چې د آزادۍ په پار؛ بندیتوب، جیلخانې او د زندانونو تورې تمبې مني؛ خو له تسلیمېدو او له ګونډو کېدو کرکه لري. دا ترانه، ځومره ښکلې د تلیاد ملګري توخي له پرتمین او ویاړلي ژوندانه سره اړخ لګوي. هغه مبارز چې زندان ته لاړ، په لوړ سر راووت، مبارزه یې وکړه او د ژوند تر وروستې سلګۍ پورې یې له شتمن اقلیت څخه کرکه درلوده او دا کرکه یې له خپلې پریکندې مبارزې سره مل کوله.

ملګری تلیاد کبیر توخي د افغانستان د انقلابي کیڼ غورځنګ، یو نومیالی مبارز و. ډیری هغه انقلابي روڼ اندو چې د پلچرخي ویرجن زندان کې یې د خادیستانو ربړونې او شکنجې ګاللي دي، هرومرو د ملګري توخي له نوم سره آشنا دي. تلیاد توخي، په زړورتیا د زندان امتحان ورکړ او د ژوند په وروستیو شیبو کې یې د خپل زندان خاطرې ولیکلې چې لړۍ یې دوام درلود، خو له بده مرغه دا لړۍ د هغه له پرتمین مرګ سره ودریده.

«سیند خپرندویه» د دې ویاړ درلود او لري چې د ملګري توخي په شان یو مبارز، انقلابي لیکوال او شاعر یې تر څنګ درلود. د هغه هڅانده دریځ، موږ ته دا انګیزه راکوله چې د انقلابي، پرمختللي او مترقي لیکنو د ژباړې لړۍ پیل

او تر خپله وسه يې مخې ته ويسو. هغه به ويل چې دا د وياړ ځای دی چې د افغانستان د کينې انقلابي غورځنګ په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره پښتو ژبې ته، د ژباړې په برخه کې دومره کار تر سره کيږي. مدام به يې له موږ غوښتل چې د دې ستر کار لړۍ په جديت او هاند سره تعقيب کړو او د خپل هر ډول مرستې ډاډ به يې راکاوه.
تلياد کبير توخي، په خپله پر يو ستر کار بوخت و. هغه د زندان خاطرې راټولې او په څو ټوکو کې يې وليکلی چې دې لړۍ لا ادامه درلوده. د دې تر څنګ د شعر په برخه کې يې هم ډير کار وکړ، هغه شعر چې د دښمنانو پر ورميږ لکه چاړه تيريده او د ولس د سنګر او مورچل پر پياوړتيا او غښتلتيا يې خورا زيات اغيز درلود. همدا شان، هغه د ستمګرو قوتونو او ځواکونو د ستمګرانه او بلوسګرانه څيرې د بربنډولو په موخه لوړې مقالې وليکې او خپرې يې کړې.
«سيند خپرندويه»، چې د افغانستان د مبارزو روڼ اندو د داوطلبانه کار مرکز دی، په پام کې لري چې په يو وړ وخت کې د تلياد ملګري توخي د زندان د خاطرو د ژباړې لړۍ تر لاس لاندې ونيسي؛ ځکه چې باورمن يوو چې دا ډول خاطرات زموږ د مبارزاتي تاريخ يوه برخه او زموږ د طبقاتي دښمن د جنايتونو د لا بربنډولو لپاره خورا اهميت لري.
«سيند خپرندويه»، د تلياد ملګري توخي مړينه، د افغانستان ولس ته، د افغانستان انقلابي کينې غورځنګ ته، د افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان د پورتال مسئولينو ته، همدا ډول ملګرې نسرين معروفي او ملګرو موسوي، احمد پوپل، بشير نبي، ميرويس ودان محمودي او په تيره بيا ملګرې رحيمه توخي ته تسليت وايي او په دې درد، وير او غم کې ځان شريک بولي.
د ملګري تلياد کبير توخي لاره دې پرتمينه وي!
په درنښت
فرهاد وياړ
د «سيند خپرندويه» مسئول
۷ سنبله ۱۳۹۸